محمد هارون خپل شعشعی

۲۵ جنوری ۲۰۱۳

# په افغانستان کي د یرغلګرو لښکرو
# د بشري ضد او جنګي جنایتو حقوقي شننه
# ۶

### امریکایي ډرون وژنه او د ځاني دفاع سفسطه

امریکایي چاروکي پر خپلواک او وياړلي افغانستان د خپل استعماري یرغل د توجیه او په پښتني قبایلو، یمن، سومالیا او داسي نورو سیمو کي د خپلو بې پیلوټه الوتکو( ډرونو) د وحشیانه جنایتو پر مهال د ځاني دفاع (Self-defence/defense) په  هغه حق اِستِناد کيي، چي له پخوانو زمانو راهیسي تر اوسه په ملي او بین المللي حقوقو کي پېژندل سوئ دئ. راسئ د حقوقي نظریو او معتبرو بین المللي اسنادو په سپڼلو سره وګورو، چي په ملي او بین المللي حقوقو کي د ځاني دفاع حقوقي چوکاټ څه دئ؟ او د همدې تیوریکو ارزښتو په رڼا کي روښانه کو، چي متحدو ایالتو ریښتیا هم د ځاني دفاع د منل سوو حقوقي اصولو او قواعدو له مخي پر افغانستان یرغل وکئ؟ او د همدې منلي حقوقي سیستم د اساساتو له مخي د افغانستان په ګډون د نړۍ په بېلابېلو هیوادو کي له خپلو وحشتناکو جنګي ماشینو( ډرونو) څخه کار اخلي؟ لکه څنګه چي پروفیسر میشل چسدوفسکي (Prof. Michel Chossudovsky) په خپله مستدله مقاله « ایا د ۲۰۰۱ع کال د سیپټمبر پر یوولسمه، افغانستان پر امریکا برید وکئ؟» کي کاږي، اول خو د ځاني دفاع په اړه د امریکا او ناټو له خوا د واشینګټن معاهدی د پینځمي( ۵ ) مادي د استناد پر خلاف، افغانستان د ۲۰۰۱ع کال د سیپټمبر پر یوولسمه، پر امریکا برید نه ؤ کړئ. دوهم تر اوسه داسي مدرک او ثبوت په لاس کي نسته، چي وښیي، د سیپټمبر د یوولسمي یا ( ۱۱/۹) خواشینونکي پېښه د القاعدې کار ؤ. که څوک دا خبره وهم مني، چي په ( ۱۱/۹)  کي د القاعدې لاس ښکېل ؤ، بیا هم داسي هیڅ ثبوت نسته، چي افغانستان د یوه ملت په توګه د( ۱۱/۹) عامل او مسبب ؤ یا یې په یوه ډول د دولتونو په دې پېښه کي لاس لاره.[۳۰]

د وتلو ماهرانو او متخصصانو په ګډون د( ۱۱/۹) د حقیقت موندني دله هم د علمي دلایلو او مسلکي شواهدو په وړاندي کولو سره استدلال کيي، چي د نړیوالي سوداګرۍ د مرکز، په تېره بیا اوومي ودانۍ(WTC 7) نړېدل، د ادعا سوي تروریستي الوتکي د ګوزار نه، بلکي د یوه مخکي له مخکي انجینري سوي پلان نتیجه وه. د دوی په نظر د الوتکي اور دونه قوي او شدید نه دئ، چي وکړای سي دغه راز پیاوړې ودانۍ په څو دقیقو کي را و نړيي. د تعمیر جوړولو او نړولو د دغو مسلکي ماهرانو او متخصصانو په باور، د دې عصري او پیاوړي ودانۍ د نړېدو وخت او

شکل دواړو د ودانییو له هغه تنظیم سوي او پلان سوي نړېدو سره بشپړ ورته والی لاره، چي په علمي اصطلاح يي کنټرولډ ډيمَلیشن (Controlled demolition) بولي؛ او د خاصو چاودونکو موادو په مرسته کيږي.[۳۱] له بلي خوا د طالبانو مشرانو تر ( ۱۱/۹) تراژيدی وروسته په بېلابېلو مناسبتو ژمنه وکړه، چي که په ( ۱۱/۹) کي د بن لادن د لاس لرلو په اړه و هغوی څه مقدماتي اسناد او مدارک وړاندي سي، حاضر دي چي بن لادن د محاکمې دپاره و امريکايي چارواکو ته و سپاري؛ خو واشينګټن د طالب مشرانو دا ژمني او غوښتني يو مخ رد کړې. د طالبانو پر مشرانو دغه راز تور لګېدلئ ؤ، چي د ( ۱۱/۹) پر مهال يي د القاعدې مرسته او سيله کوله؛ او د هغه تروريستي سازمان و مشر، بن لادن، تي په خپله خاوره کي پناه ورکړې وه؛ حال دا چي د سي. بي. ايس. نيوز(CBS News) د رپوټ له مخي بن لادن د ۲۰۰۱ع کال د سېپتمبر پر لسمه (۱۰) نېټه د پاکستان د راولپينډی په عسکري روغتون کي بستر ؤ.[۳۲]

کله چي د سي. آی. اې. پخوانی يارغار، د ( ۱۱/۹) فاجعې پر مهال په افغانستان کي نه، بلکي په پاکستانی خاوره، هغه هم د پاکستاني پوځيانو د راولپينډی په خاص او معتبر روغتون کي په علاج کولو بوخت ؤ، بيا نو ولي د ځاني دفاع په درواغجن او مکرجن نامه زموږ پر خوار او مظلوم هيواد ظالمانه تېری وسو؟! که د بن لادن په ګډون د القاعدې زياتره سرغنه د افغانستان پر ځای په پاکستان کي وژل سوي يا نيول سوي دي؛ او د سي. آی. اې. د وروستيیو رپوټو له مخي دمګړی په افغانستان کي د القاعدې سل کسه هم فعاليت نه لري، بيا نو له يوولسو کالو راهيسي له تروريزم سره د مبارزې تر پردې لاندي د امريکا او ايتلافي دولتو تش په نامه جګړه ولي زموږ په وران او وينولړلي کور کي روانه ده؟! که سپيني مانۍ، پينټاګان او سي. آی. اې. او نورو ايتلافي متحدينو په ريښتيا د القاعدې او نورو افراطي ډلو ټپلو په نابودی پسي را وهلي وای، بيا خو يي له تروريزم سره جګړه بايد په افغانستان کي نه، بلکي په پاکستان او ځينو عربي هيوادو کي پيل کړې وای. هغه هم نه له عامو او بې ګونا پاکستاني يا عربي اولسو سره، بلکي د دغو هيوادو له منافقو او فاسدو حکومتو، په تېره بيا له آی. ايس. آی. او عربي استخباراتي سازمانو سره؛ ځکه د القاعدې او نورو ورته تروريستي- افراطي سازمانو اوسني مرکزونه خو تر ګرده له دغو عسکري او استخباراتي مرکزو سره نه شلېدونکي اړيکي لري. پيسې، وسلې او لارښووني هر څه له دغو شيطاني مؤسسو څخه تر لاسه کيږي. البته، يو وخت سي. آی. اې. په خپله  هم د القاعدې او نورو افراطي سازمانو تروريستي چاري پر مخ بېولې؛او تر څه لنډمهاله  مخالفتو او شخړو وروسته نن بيا دا دئ په ليبيا او سوريه کي د هغوی د زړې او خوږې ياراني شاهدان يو. په ډېري خواشينی سره امريکايي او ايتلافي لښکرو له تېرو يوولسو کالو راهيسي د تروريزم او افراطيت د ريښو کښلو يا کمزوري کولو پر ځای په لوی لاس د تروريزم او افراطيت و پراخولو او پياوړي کولو ته لمن وهلي ده؛ او تر اوسه پوري لا و دې خطرناک او ورانوونکي اور ته لمن وهي. د ډرون استعمال، د قرآن مجيد سوځل، پر مړو بولي کول، د مړو د لاسو او پښو پرېکول، پر کوچنيانو جنسي تېرې، پر ودونو، جنازو، کوچنيانو، ښځو او بېلابېلو ملکي هدفو بمباری، د خلکو پرکورو شپيني چاپې او بې شماره نور جنايتونه، ټول هغه عوامل او اسباب دي، چي په افغانستان او ګرده سيمه کي د تروريزم او افراطيت لمبې و اسمان ته رسولي دي.

بله ارزښتناکه او اساسي خبره دا ده، چي ځاني دفاع هيڅکله د زړه سړولو او مدعا پوره کولو وسيله نه ده. په دواړو ملي او بين المللي حقوقو کي ځان ته خاص اصول او قواعد لري، چي سرغړونه يي و را منځ ته سوو نتايجو ته د ځاني دفاع پر ځای جُرمي او جنايي وصف ورکيږي. راسئ د ليکني په دې برخه کي د دې لرغوني او منلي حق د ځينو حقوقي اړخو او عناصرو په باره کي څو لنډي خبري وکو:

- د ځاني دفاع حق تر هر څه مخکي غوښتنه کيي، چي د ځاني  دفاع په نامه سوئ عمل باید کاملاً ضروري او ناچاري بڼه ولري.یاني دفاعي عمل باید د ځان ژغورني د وروستۍ او یوازنۍ وسیلي په توګه استعمال سوئ یي؛ حال داچي د بي پیلوټه الوتکو بریدونه تل د واردواره یا پیشکي ګوزار(pre - emptive strike) بڼه لري. په انګرېزي ژبه کي متل دئ، چي وایي: حمله د دفاع تر ټولو ښه بڼه ده( Attack is the best form of defence ) دا چي حمله د دفاع ښه بڼه ده، که دفاع د حملي ښه بڼه ، دواړه حربي اصول او تاکتیکونه دي، چي په حقوقو کي مصداق نه لري. په حقوقو، په تېره بیا د هیوادو په داخلي یا ملي حقوقو کي د ځان دفاع یوازي هغه وخت مشروع ګڼل کیږي، چي د ځان، عزت او مال ژغورني د یوازنۍ وسیلي په توګه استعمال سي؛ مګر د ډرون الوتکو په ړندو او ظالمانه بریدو کي له ورایه ګورو، چي د امریکایي چاراوکو له خوا په ګوته سوئ خطر او ګواښ کله کله مادي تحقق څه چي حتا د پیژندني او تشخیص وړ هم نه يي. مخکي مو د نیویارک ټایمز په خبر کي ولوستل، چي اوباما د شکمنو کسانو د نیولو او محاکمي پر ځای په خپله د هغو د وژلو پرېکړي کيي؛او پر نښاني سوو کسانو سربېره د نورو ملکي خلګو په مرګ ژوبله هم سر نه خلاصيي. دا خبره لمر غوندي روښانه ده، تر هغه مهاله چي د یوه شکمن، تورن یا مجرم د نیولو او محاکمه کولو امکانات په لاس کيي يي، په ډرون یا هره بله وسیله د هغه وژل یا ټپي کول هیڅ حقوقي ،انساني او اخلاقي جواز نسي لرلای؛ ځکه بشري حقوق و هر ډول مظنون، متهم او حتا مجرم ته د دفاع حق ورکيي. هغوی کولای سي د مدافع وکیلانو او نورو حقوقي مشاورانو په مرسته د ملي او بین المللي عدلي - قضایي ادارو د لګېدلو تورونو په وړاندي د ځان دفاع وکي.

په بین المللي حقوقو کي هم د ځاني دفاع مسأله خاص حدود او شرایط لري. د ملګرو ملتو د منشور د دوهمي ( ۲ ) مادې څلرمه ( ۴ ) فقره د بین المللي حقوقو د عمومي او کُلي اصل په توګه و خپلو ټولو غړو ته لاربښونه کيي، چي په بین المللي اړېکو کي د نورو دولتو د مځکنۍ بشپړتیا یا سیاسي خپلواکۍ پر خلاف د قوې له استعمال ، ګواښ یا هر هغه لاري څخه ډډه وکي، چي د ملګرو ملتو له هدفو او مخسدو سره سمون و نه لري. دا مهم او اساسي اصل، د ملګرو ملتو له منشور سره سم، د دولتو تر منځ د دوستانه اړېکو او همکارۍ په اړه، د بین المللي حقوقو د( ۱۹۷۰ع ) کال په اعلامیه کي هم تأیید سوئ دئ. د دې اعلامیې په سریزه کي یادونه سوې ده، چي دولتونه باید په خپلو بین المللي اړېکو کي د بل دولت د سیاسي خپلواکۍ یا مځکنۍ بشپړتیا پر خلاف د نظامي، سیاسي، اقتصادي او داسي نورو فشارو له استعمال څخه ډډه وکي.[۳۳]

د بین المللي حقوقو په چوکاټ کي د دولتو تر منځ د سوله ییزو او برابرو اړېکو د مخکني اصل تر څنګ، په ځینو استثنایي حالاتو کي، د ځاني دفاع حق هم په رسمیت پیژندل سوئ دئ. د ملګرو ملتو د منشور د یو پنځوسمي مادې (۵۱ ) له حُکم سره سم، ټول دولتونه حق لري، چي د هر ډول وسله وال برید په مقابل کي، په ګډه ( دسته جمعي ) یا یوازي سر(منفردانه ) دفاع وکي.[۳۴]

د ملګرو ملتو د منشور د یو پنځوسمي مادې نوي او وروستي تفسیرونه حتا و دولتو ته دا حق هم ورکيي، چي د خپلي مځکنۍ بشپړتیا، ملي واکمنۍ، سیاسي خپلواکۍ او نورو مشروع ګټو پر خلاف د مخالفینو د وسله وال برید تر مادي تجسم مخکي په دفاعي اقدام لاس پوري کي. ښایي شکه له دې تجویز سره جوخت دا سپارښتنه هم کيي، چي د وړاندیتوب یا پیش دستۍ له دې دفاعي حق څخه باید تل د ملګرو ملتو د منشور او د بین المللي حقوقو د نورو ارزښتناکو اصولو، قواعد او طرزالعملو په چوکاټ کي استفاده وکړي؛ ځکه د زورزیاتي او تشدد هر عمل وسله وال برید نه ګڼل کیږي؛ او تر هغه وخته چي د وسله وال برید خبره نه يي ثابته سوې، د ځاني دفاع په حق اِستِناد کول هم حقوقي تاداو او جواز نسي لرلای.[۳۵] په بله وینا، تر بالفعل خطر مخکي له هر راز جنګي وسایلو څخه استفاده باید پر تصوراتو، موهوماتو او خپلسرو غوښتنو نه، بلکي پر پیاوړو دلایلو او اسنادو تکیه ولري.

- لکه څنګه چي ګورو د امریکایي پوځ د دړون بریدونه ارادي، پلان سوي او سنجول سوي (pre-meditated) عملونه دي؛ په داسي حال کي چي ځاني دفاع باید اتوماتیکه، عاجله او ځای پر ځای بنه ولري. یاني د ځاني دفاع عمل تر هغه مهاله مشروع او مؤجه نه ګڼل کیږي، چي د مقابل لوري تېری واقعي او نیژدې( د پیښېدو په حال کي ) ځانګړتیا و نه لري. باید په ټینګار سره و ویل سي، که چیري دولتونه تر حملې یا یرغل مخکي پر خپلو دوښمنانو ګوزار کیي، بیا نو د پخو او پیاوړو دلایلو، اسنادو او شواهدو په ښکاره کولو سره باید ثابته کي، چي واردواره ګوزار یې و ځاني دفاع ته حیاتي ارزښت لري. سربېره پر دې، د دغه راز پیشکي ګوزار د استفادې دپاره باید نه پر خپلسر، بلکي همېشه د بین المللي حقوقو، په تېره بیا د ملګرو ملتو د سازمان د منشور په چوکاټ کي عمل وکي. زموږ دراک او مدبر لوستونکي تصور کولای سي، که دولتونه، سازمانونه یا اشخاص د خیالي، جعلي، ناسمو او نامعقولو ادعاوو پر بنسټ د شکمنو یا تورنو کسانو پر ضد و واردواره ګوزارو ته ملاوي و تړي، بیا خو تر هر څه مخکي د بین المللي حقوقو د مهم او بنیادي اصل یاني د دولتو د حاکمیت د برابرۍ پر اصل د بطلان کرښه ایستل کیږي. کله چي په بین المللي اړیکو کي د دولتو او نورو بین المللي شخصیتو ترمنځ د حاکمیت د برابرۍ اصل تر پښو لاندي سو، بیا خو په دې ناارامه او کړکېچنه نړۍ کي د ملي او بین المللي حقوقو، نظم او تمدن په نامه هم هیڅ شی نه پاتیږي. اوسنۍ نړۍ له خپلو ټولو علمي، تخنیکي او بشري پرمختګو سره په داسي وحشتناک ځنګله بدلیږي، چي ټولي چاري بې د وسلي او طاقت په زور فیصله کیږي. همدې خطرناکو عواقبو ته په کتو سره دا ډول خپلسري او بې پروا بریدونه د ځاني دفاع په نامه د بین المللي حقوقو په چوکاټ کي روښانه توجیه او جواز نه لري.

- د ځاني دفاع منل سوي حقوقي اصول او قواعد حُکم کیي، چي دفاعي عمل باید هیڅکله تر رسېدلي یا اټکل سوي ضرر پراخ ، شدید او نامناسب نه یې؛ خو د دړون په ړندو ګوزارو کي ټول ګورو، چي د ځاني دفاع د معقولیت او تناسب اصل قطعاً په پام کي نه نیول کیږي.[۳۶] ځکه له هیڅا پته نه ده، چي د حق او ناحق تروریستانو په ګونا د معصومو ملکي خلګو په ژوند او مال بې رحمانه بازۍ کیږي. د همدې اصل له مخي، پر سرلوړو او خپلواکو مینو پښتنو د امریکایي بې پیلوټه الوتکو ظالمانه بریدونه یا د بې دفاع فلسطینانو پر ضد د اسراییلو د صهیونیستي دولت وحشیانه حملې د ځاني دفاع تر حقوقي چوکاټ دباندي دي.

که حمله او ځاني دفاع په یوه وخت او یوه ځای کي یي، بیا خو کله کله دا حالت له امکانه لیري نه دئ، چي دفاع کوونکی د بیري یا عصبانیت په وجه د مقابل لوري د ترسره سوي برید او خپلي جوابي دفاع د تناسب یا اندول و مسألي ته پام و نه کي؛ د مثال په توګه د تېري کوونکي د بوکس یا لرګي و وار ته په چاړه یا توپک سره جواب و وایي.د داسي نااندولی پیښېدل په ځینو خاصو حالاتو کي ناممکنه خبره ده(که څه هم دفاع کوونکی د بې تناسبۍ په هر ډول حالت کي د خپل ناوړه او غیرمؤجه عمل مسوول ګڼل کیږي )؛ خو هر څونه چي د ترسره سوي برید او دفاعي عمل تر منځ زماني واټن ډېریږي، له هغه سره سم په ځاني دفاع کي د تناسب یا اندول و مسألي ته د پام نه کولو ټول مخففه حالات هم له منځه ځي. د دې ټولو خبرو پر خلاف موږ ګورو، چي امریکایي پوځونه یوولس کاله وروسته هم هره ورځ د ځاني دفاع په نامه پر حق او ناحق هدفو خپلسري ګوزارونه کیي، چي په نتیجه کي د ګلالیو کوچنیانو، ښځو او زړو په ګډون و بې ګونا ملکي خلګو ته درني مرګ ژوبلي اوړي... دا ډول سنجول سوي، نابرابر او خپلسري بریدونه، په واقعیت کي ځاني دفاع نه، بلکي هغه کسات اخیستونکي عملونه دي، چي د خپلواکو ملتو د ځبلو، ابلولو او ښپلابپلو استعماري نخشو د تحقق په مخسد کیږي.

د اوباما اداره په داسي حال کي د ډرون و ړندي او بي رحمانه جګړي ته دوام ورکيي، چي حتا د امريکايي پوځ متقاعد منصبداران او د سي. آی. اې. پخواني کارکوونکي يي هم له قانونيت او مؤثريت سره ښکاره مخالفت ښيي. د امريکايي اوردو متقاعده ډګرواله - ان رايټ (Ann Wright) خو له لويه سره د ډرون جنګ قانونيت نه مني. دا وايي:« ډرونونه بايد د انسان وژني ماشينونه و بلل سي. دا ماشينونه د نښاني سوو کسانو د وژني او هغو کسانو د غيرقانوني وژني دپاره کاريږي، چي په هيڅ جرم نه دي محکوم سوي.» د سي. آی. اې. د تروريزم ضد مرکز تقاعد سوي مشر، رابرټ ګرينر( Robert L. Grenier) د ډرون بريدو د تاوانو په اړه داسي ليکلي دي:« سړی اريانيږي، چي څونه يمنيان به د ډرون د دي ناسمو او بي پروا بريدو له امله په راټلونکي کي و زورزياتي او افراطيت ته مخه کي؛ او د سيمه ييزي اجندا لرونکي څونه يمني جنګيالي به د ځان پر خلاف د امريکايي  پوځ د دغه راز عملياتو په جواب کي د لوېديځ په سرسپارلو دوښمنانو واوړي. د پاکستاني اولس وروستی نظرپوښتني هم په هغه هيواد کي د امريکايي پوځ له بريدو سره د خلګو د زياتي او سختي کرکي ښکارندوی دي. دا قهر او غوسه په خپل وار د متحدو ايالاتو پر نظامي هدفو د مخالفينو له انتحاري بريدو سره زياته مرسته کيي.»[۳۷]

لکه څنګه چي مخکي يادونه وسوه، د امريکا سياسي او پوځي مشران نسي کولای وهغه خپلسري او ظالمانه عمل ته د ځاني دفاع نوم ورکي، چي نه د متحدو ايالتو د ملي قوانينو او نه د بين المللي بشري حقوقو جواز او ملاتړ له ځانه سره لري. د سپيني ماڼی، پينټاګان او سي. آی. اې. واکمنان هره ورځ په  افغانستان، پښتني قبايلو، عراق، يمن او سوماليا کي د بي ګونا ملکي وګړو په وحشيانه وژنو سره د خپلو دوښمنانو ليکي پياوړي کيي.

که امريکايي مشرانو په ريښتيا هوډ لرلای، چي په افغانستان او پښتني قبايلو کي د سولي او امنيت له ټينګېدو سره مرسته وکي، بيا خو د هغه يوازنی معقوله او منطقي لار له پاکستاني آی. ايس. آی. او پاکستاني جنرالانو سره جدي حساب کتاب ؤ او دئ، نه دا چي وخره ته هيڅ نه وايي؛خو خروښ يي تر پالانه باسي. ټول جهان په دي روښانه واقعيت پوهيږي، چي په افغانستان کي اوبه له کمه ځايه خړيږي. له کلونو کلونو، بلکي لسيزو راهيسي په افغانستان کي د ټولو تروريستي او تخريبي عملو سوق او اداره له پښتني قبايلو څخه سونه کيلومتره ليري د آی. ايس. آی. او پاکستاني پوځ د جنرالانو په لاس کي ده. تر هغه وخته چي لاس وهونکو او پراختيا غوښتونکي پاکستاني جنرالان پر خپل ځای نه يي کښېنول سوي، په افغانستان کي د سولي او امنيت راوستل پر يخي ليکل او لمر ته ايښوول دي. په پاکستان کي د پوځي واکمنانو ملاتړ او په افغانستان کي د جنايتکارو، ورانکارو، غلو، جاسوسانو او مافيايي ډلو ټپلو واکمن ساتل، په دي ورانه او جګړو ځبلي سيمه کي د سولي او ثبات له ټينګښت سره ښکاره ټکر لري.

موږ ټول شاهدان يو، چي امريکايي او ايتلافي لښکرو له تيرو يوولسو کالو راهيسي زموږ وکړېدلو او بېوزلو خلګو ته خپل کور او کلی دوږخ ګرزولئ دئ؛ خود افغانستان د کونړ، نورستان او ننګرهار پر سرحدي سيمو د پاکستاني پوځيانود توپواو توغنديو و وحشيانه بريدو ته د يوی خاشي په اندازه چورت نه خرابيي. ايا په افغانستان کي د سولي او امنيت راوستل دي ته وايي؟! مګر د پاکستاني پوځيانو و دي بې شرمانه بريدو ته ځانونه ناګاره اچول، له ورايه نه ښيي، چي امريکايي پوځونه زموږ د هيواد د مځکنی بشپړتيا، ملي واکمنی او سياسي خپلواکی د دفاغ دپاره نه، بلکي د خپلو د کرغېړنو استعماري نخشو د تحقق دپاره دېره دي؟! ستراتيژيک تړون( په حقيقت کي ستراتيژيکه اسارتنامه ) د افغنستان و دايمي اشغال او دغو شومو استعماري نخشو ته له« مشروعيت »ورکولو پرته، بل څه هدف لرلای سي؟! نن ګورو، چي د ستراتيژيکي اسارتنامي سرسپارلو مدافعانو او مناديانو هم د پاکستاني پوځيانو د وحشيانه يرغلو په وړاندي د خپلو امريکايي او ايتلافي بادارانو و دي خاينانه سکوت او بي تفاوتی ته سترګي مړي او غوږونه کاڼه

اچولي دي. ښه مي په ياد دي، چي د استعماري لښکرو دې بې هويته او بې غروره چپراسيانو به په سپين سترګی او بې شرمی سره ادعاوي کولي، چي امريکايي پوځونه د پاکستاني نظاميګرانو او ايراني اخوندانو په مقابل کي زموږ د هيواد او خلګو دفاع کيي! ځکه نو بايد تل تر تله دلي پراته يي. خدای تعالی ډېر ژر د دې درواغجنو مزدورانو مخونه تور کړل. نن چي د هيواد ځيني سرحدي سيمي د پاکستاني پوځيانو له جارحانه تېري سره مخامخ دي؛او هره ورځ زموږ و بېوزلو او مظلومو هيوادوالو ته د سر او مال درانه تاوانونه رسيږي، څه سو له امريکايي پوځ سره د کابل د مزدور رژيم« ستراتيژيک تړون »؟! څه سوه د پاکستاني پوځيانو او ايراني اخوندانو د حملو او لاسوهنو په مقابل کي د امريکايي لښکرو دفاعي مکلفيتونه؟! ايا ريښتيني او وطندوست افغانان د هغو امريکايي پوځو، الوتکو او ټانکو له دايمي حضور سره موافقه کولای سي، چي نه د ګاونډيانو او نورو لاسوهنکو د بې شرمانو بريدو مخه نيسي؛ او نه زموږ په وينولړلي ټاټوبي کي د سولي او امنيت له را وستلو او ټينګښت سره مرسته کولای سي، بلکي په خپله د بهرنيو بريدو، جګړو او وينو بهېدو اساسي عامل ګڼل کيږي؟! مالوميږي چي د امريکايي عسکرو د دايمي چونيو په دفاع کي د کابل رژيم د بېلابېلو مزدورو ډلو ټپلوناري سوري د دې سرلوړي او وياړلي خاوري د ساتني دپاره نه، بلکي يوازي او يوازي د خپلو شخصي، ګروهي او تنظيمي ګټو د خوندي کولو او اوږدولو په مخسد کېدي او کيږي. هو! ټولو ويښو افغانانو ته لمر غوندي روښانه ده، چي د استعمار ټول ميراثخواره( پخوانی جنګي ډلي ټپلي، جهادي سوداګران، تيل سوي جاسوسان، د ټيکنوکراتانو په نامه حرفه يي غله، سياسي دلالان، بې مسلکه لومپنان، مافيايي ډلي او نور وطن پلورونکي )د خپلو کرغېړنو او شيطاني ګټو د تداوم او تحفظ دپاره په کابل کي و يوه مزدور رژيم او د هغه مزدور رژيم تر شا و يوه پياوړي استعماري ځواک ته اړتيا لري. د دغه راز مزدور رژيم او دغه شان استعماري ځواک ظالمانه واکمني د دې جنايتکارانو او خاينانو د انساني ضد ژوند يوزانی شرط دئ؛ خو په خواشينی سره د استعمار ميراثخواره په دې ساده او اسانه حقيقت سرونه نه خلاصيي، چي مزدور رژيمونه او يرغلګر ځواکونه تل تر تله د خلګو پر ژوند او مقدراتو واک نسي چلولای. په کابل کي د روسانو د مزدور رژيم نسکورېدل او د سره پوځ شرمناکه تښته دواړه د دې واقعيت انکار نه کېدونکي ثبوتونه دي.د استعمار چپراسيان بايد په دې مُسَلّم حقيقت سد ورسيي،که يونيم لک( ۱۵۰۰۰۰) امريکايي او ايتلافي عسکرو، په څه دپاسه يوولسو کالو کي د يوه مزدور، خاين، فاسد او بې کفايته رژيم ساتنه و نکړای سوه، تر دې وروسته به په لسو- شلو زرو عسکرو څنګه د هغه ژغورنه کيي؟! مګر نه مودي اروېدلي چي وايي:کوږ بار تر مزله نه رسيږي؛ په زور کلي نه کيږي.

د امريکايي استعمار مزدوران په دې روښانه واقعيت سر نه خلاصيي، چي د پاکستاني واکمنانو راضي ساتل؛ او په بېلابېلو لارو په درسته سيمه کي د جګړو او تصادماتو اور ته لمن وهل د يرغلګرو امريکايي او ايتلافي لښکرو د استعماري نخشو مهمه او اساسي برخه ده. ايا په دې وروستيو کي د افغانستان او پاکستان دپاره د امريکا د دولت د خاص استازي - مارک ګروسمن(Marc Grossman) له خوا د افغانستان او پاکستان د رسمي پولي په توګه د ډيورنډ د منحوسي او مردودي استعماري کرښي په رسميت پېژندل،د دې خبري څرګند ثبوت نه دئ؟! دا خبره هم بايد له ياده و نه باسو، چي مارک ګروسمن دا خبري له ګيډي نه دي کړي. هغه په حقيقت کي د سپيني مانۍ، پينټاګان، سي. آی. اې. او سټېټ ديپارټمينټ( دباندنيو چارو وزارت) د واکمنانو شيطاني مکنونات بيان کړي دي؛ ځکه دا استعماري دريځ و امريکايي واکمنانو ته له خپلو انګرېزي پلرونو او نيکونو څخه په ميراث پاته دئ. مګر ويښ او دراک افغانان نه پوهيږي، چي استعمارګرو انګرېزانو ولي د توپ او برچې په زور زموږ تاريخي خاوره په برتانوي هند پوري وتړله؛او

ورسته يي په سيمه کي د خپلو اوږدمهاله استعماري نخشو د تحقق دپاره د هند د نيمي وچي په وېشلو سره د پاکستان په نامه بېل دولت جوړ کړ. ناځاپي نه ده، چي پاکستاني دولت د جوړېدو له همغه اولي ورځي څخه تر اوسه پوري د خپلو بادارانو( انګلستان او امريکا) و استعماري ګټو ته خدمت کړئ دئ؛ او تر دې وروسته به هم هيڅکله د لندن او واشينګټن له استعماري ګټو يو ګام پورته نه کي.د همدغو دلايلو له مخي انګلستان، امريکا او د هغو نورو غربي متحدينو همېشه د ډيورنډ پر مسأله د خپلو پاکستاني مزدورانو سيله او ننګه کړې ده؛ او تل ترتله به پر دې دريځ ولاړ يي.

په افغانستان کي د امريکايي او ايتلافي لښکرو بېلابېلو ځيره خورو د خپلو بادارانو تر شرمناکي تحميلنامي او اسارتنامي( ستراتيژيک تړون ) مخکي همدغه راز چغي او نارې وهلي، چي د امريکايي لښکرو له وتلو سره سم به د کابل د تنظيمي جنګو اورونه بيا بل؛ او د هيواد په ګوټ ګوټ کي به د توپکيانو د ترخي او پاچهۍ زمانه بيا تکرار سي؛ خو و دې ځرګند حقيقت ته همېشه ځانونه ناګاره اچيي، چي که امريکايي او ايتلافي لښکرو د سولي، امنيت او ريښتيني اولسواک نظام په راوستلو کي هغه وجايب او مسووليتونه په سم ډول سرته رسولي وای، چي شپه و ورځ يي په دونيا کي ډولونه او ډمامي وهي، بيا به نه د همسايګانو له خوا د افغانستان د اينده ( بلع ) کېدو خطر وای او نه به د هيواد په هيڅ ګوټ کي د کابل د وحشتناکو تنظيمي جګړو د تکرار بېره وای. ايا له دې حقيقته څوک سترګي پټولای سي، چي د همسايګانو بې شرمانه لاسوهني او تيري له يوې خوا او په هيواد کي د جنګي ډلو ټپلو د احتمالي جګړو خطرونه له بلي خوا ټول د امريکايي او ايتلافي ځواکو د يوولس کلن اشغال او يوه مزدور، فاسد او بې کفايته حکومت سوغاتونه دي. لکه څنګه چي مخکي اشاره وسوه، که له امريکايانو او مؤتلفه قواوو سره ريښتيا هم د سوله ييز او خوندي افغانستان غم وای، بيا خو يي زموږ په کورنيو چارو کي د پردو هيوادو او سازمانو د پټو او ځرګندو لاسوهنو د مخنيوي تر څنګ بايد د پردو استخباراتو د روزل سوو او څنځير ترلو جنګي ډلو ټپلو د جنايتکارو مشرانو او قومندانانو مخه هم نيولي وای؛ خو اوس هر هوښيار او حقپال افغان د سر په سترګو ګوري، چي امريکايي او ايتلافي پوځونه نه د نورستان، کونړ او ننګرهار پر سرحدي سيمو د پاکستاني يرغلګرو د بې شرمانه تېريو مخه نيسي؛ او نه هم د کرزي، فهيم، خليلي، رباني، محقق، سياف، دوستم، عبدالله، مسعود، معلم عطا او داسي نورو پېژندل سوو جنايتکارانو، غلو او وطن پلورونکو له سياسي، نظامي او مالي ملاتړه لاس اخلي. ايا د دغو بدنامو جنګي ډلو، زورواکانو، غاصبانو، غلو او خاينانو هر اړخيزه ننګه او ملاتړ، په افغانستان کي د سولي او ارامۍ و بهير ته د ټايم بم له اينسوولو سره ورته والی نه لري؟! کي چا مخکي له مخکي مخه و نه نيوله، دا بم به هرومرو چَوي؛ او په چاودېدو سره بې د کابل د مخکنيو تنظيمي جنګو په پرتله د هيواد مځکنی بشپړتيا، ملي واکمني، سياسي خپلواکي، سوله او امنيت له لا لويو خطرو سره مخامخ کيږي. ولي؟ په دې چي د مزدور ، فاسد او سازشي کرزي اوردو، پوليس، استخبارات او ايله جاري ملېشي( اربکي ) د داسي جنايتکارو، خونخورو او ورانکارو جنګي ډلو ټپلو په لاس کي دي، چي تر ګډ او متحد افغانستان په تجزيه، تر سولي او امنيت په جنګ او نا‌ارامۍ او بالاخره تر معقول او عادلانه وېش په چور خوشاله دي؛ او هره شيبه د دې وياړلي تاريخي کور و پلورو او اوجاړولو ته چمتو ناست دي.

زه له اوره بې سوځلو او له مار و لړمه بې چيچلو بله هيڅ توقع نه لرم . البته د دې اور لګولو او دې خطرناکه مارانو او لړمانو د ساتني او روزني اساسي مسووليت د امريکا او ايتلافي دولتو جنګ غوښتونکي سياسي- نظامي مشرانو پر غاړه دئ. که دغو استعمارګرانو او د سيمي نورو مغرضو دولتو په خپلو پيسو، وسلو او نازونو دا ماران او لړمان تر اوسه نه وای روزلي او پاللي، بېله شکه به نن او سبا زموږ د سولي، امنيت، مځکنی بشپړتيا، ملي واکمنی، سياسي خپلواکی، ملي يووالي او نېکمرغی په لار کي دا بالقوه خطرونه هم نه وای.

د دي روښانه واقعيتو ترڅنګ يادوني او شنني وروسته و دي نتيجې ته رسيږو، چې په افغانستان او سيمه کې د امريکايي او ايتلافي لښکرو استعماري جګړه، په تېره بيا روانه ډرون وژنه د ځاني دفاع له هغو اساساتو او عناصرو سره هيڅ اړخ نه لګيږي، چې د ملګرو ملتو د سازمان په منشور او د بين المللي حقوقو په نورو ارزښتناکو او معتبرو وثايقو کې تسجيل سوي ده.

---

**لمنليکونه**

[30] Prof. Michel Chossudovsky, “Was America Attacked by Afghanistan on September 11, 2001? October 7, 2001. Afghanistan is invaded under the doctrine of "self-defense", Global Research, October 04, 2012: http://www.globalresearch.ca/was-america-attacked-by-afghanistan-on-september-11-2001/

[31] Julie Lévesque, “9/11: Facts, Fiction and Censorship”, Global Research, September 12, 2012: http://www.globalresearch.ca/911-facts-fiction-and-censorship/; Kevin Ryan, “9/11: Looking for Truth in Credentials: The Peculiar WTC “Experts”, Global Research, March 13, 2007: http://www.globalresearch.ca/9-11-looking-for-truth-in-credentials-the-peculiar-wtc-experts/

[32] *Prof. Michel Chossudovsky, “Was America Attacked by Afghanistan on September 11, 2001? October 7, 2001. Afghanistan is invaded under the doctrine of "self-defense", Global Research, October 04, 2012: http://www.globalresearch.ca/was-america-attacked-by-afghanistan-on-september-11-2001/*

[33] Prof. Tunkin, G.I. Law and Force in the International System. Trans. from the Russian. (Moscow: Progress Publishers, 1985) 81 - 82.

[34] ——, UN CHARTER OF THE UNITED NATIONS, signed on 26 June 1945: http://www.un.org/en/documents/charter/chapter1.shtml

[35] —–, “Self-defence in international law”, From Wikipedia, the free encyclopedia: http://en.wikipedia.org/wiki/Self-defence_in_international_law

[36] Michael Allen, Textbook on Criminal Law. 9th ed. (Oxford: Oxford University Press, 2007) 160.

[37] Prof. Bill Quigley,“Five Reasons Drone Assassinations are Illegal”, CounterPunch.org, May 15, 2012: http://www.counterpunch.org/2012/05/15/five-reasons-drone-assassinations-are-illegal/

پاته په راتلونکي برخه کي